


Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


افغان بنسټ
د علمي څېړنو مديريت
د تاليف او ژباړې آمريت

# روژه

## احکام، فضائل اومسائل يې

مولوي عبدالحق حماد

(c) ketabton.com: The Digital Library


# لیکلړ

د اداري يادښت ........................................ 9
روژه يو ستر نعمت ........................................ 11
د انسان د پيدايښت مقصد ........................................ 14
ايا پرښتې د عبادت لپاره بس نه وې؟ ........................................ 14
عبادات په دوه ډوله دي ........................................ 15
لومړی ډول: بلا واسطه عبادت ........................................ 15
دوهم ډول: بالواسطه عبادت ........................................ 16
بلاواسطه عبادت غوره دی ........................................ 16
د رمضان د هرکلي صحيح طريقه ........................................ 17
د روژې تعريف ........................................ 19
د روژې تاريخ ........................................ 19
د روژې مشروعيت ........................................ 20
د رمضان روژې حکم ........................................ 20
د روژې حکمت او فلسفه ........................................ 22

(c) ketabton.com: The Digital Library


د روژې ځيني روغتيايي ګټې.......................................................................23
د روژې فضائل.......................................................................................27
په ښکاره روژه خوړل.............................................................................33
د رمضان روژه پرچا فرض ده؟...............................................................34
د مياشتې په ليدلو سره روژه نيول..............................................................35
د شک د ورځې روژه ...........................................................................35
د روژې شرطونه او ارکان......................................................................36
١- نيت کول.......................................................................................36
٢- له خوراک، څښاک او جماع څخه ځان ژغورل.........................................37
هغه کارونه چې روژه نيونکي ته روا دي..................................................38
١- د شپې له خوا خوراک، څښاک او جماع..................................................38
٢- د سهار تر اول وخته د پېشمني وروسته کول...........................................38
٣- که د ورځې معلومه شي چې رمضان دی، د ورځې نيت کولای شي........39
۴- هغه چې پر ځان کابو لري، له مېرمنې سره لوبې کولای شي.................40
۵- په سفر کې د روژې خوړل...............................................................40
٦- پوره اودس کول خو په مضمضه او استنشاق کې احتياط کول.............40

(c) ketabton.com: The Digital Library


د روژې ماتوونکي ........................................................................ 41
هغه شيان چې کفاره او قضا دواړه لازموي ............................................. 41
۱- خوراک او څښاک .................................................................... 41
۲- جماع ....................................................................................... 42
هغه شيان چې روژه پرې ماتېږي او يوازې قضا يې لازمېږي ...................... 42
۱- قصدا په ډکه خوله قی کول : ........................................................ 42
۲- حيض او نفاس : ........................................................................ 43
۳- په زوره پر چا روژه ماتول .......................................................... 43
۴- په لوی لاس (په قصد سره) دود تېرول ............................................ 44
۵- سګرېټ يا چلم څکول .................................................................. 44
۶- د پېشمني په وخت کې تېروتل ...................................................... 44
۷- د روژه ماتي په وخت کې تېروتل .................................................. 45
هغه شيان چې روژه پرې نه ماتيږي او نه هم مکروه کيږي ........................ 46
۱- غسل کول ................................................................................. 46
۲- مسواک کارول .......................................................................... 46
۳- سرغوړول ................................................................................. 46

(c) ketabton.com: The Digital Library


۴- احتلام ........................................ 47
۵- خوشبویي کارول ........................................ 47
۶- د اړتیا پر وخت د خوړو خوند کتل ........................................ 47
۷- د سترګو درمل کارول ........................................ 48
۸- د مار یا لړم چیچل ........................................ 48
۹- په هېره سره خوراک یا څښاک کول ........................................ 48
هغه شیان چې روژه پرې مکروه کیږي ........................................ 50
هغه عذرونه چې له امله یې روژه ماتول روا دي ........................................ 51
۱- د ناروغۍ د زیاتېدا وېره ........................................ 51
۲- د مور یا ماشوم ژوند ته ګواښ ........................................ 52
۳- مرګوني تنده رامنځته کېدل ........................................ 52
د رمضان اړوند بېلابېلې مسئلې ........................................ 52
۱- د روژې کفاره ........................................ 52
۲- د روژې قضاء ........................................ 54
۳- پښېمنی ........................................ 54
۴- روژه ماتی ........................................ 55

(c) ketabton.com: The Digital Library


۵- تراويح ........................................................................................ 55
د روژې اړوند بېلابېلې مسئلې ........................................................... 56
په هغه سيمو کې د روژې حکم چې شپه يا ورځ يې ډېره اوږده وي ............. 56
يو دېرشمه روژه ............................................................................... 56
جراحي عمليات ................................................................................ 57
له بدن څخه وينه وېستل ...................................................................... 58
په روژه کې غاښ وېستل ...................................................................... 59
په پوزه کې دوا کارول ......................................................................... 59
په روژه کې شونډې سرې کول ................................................................ 59
مېرمن د ورځې په منځ کې له حيض څخه پاکېدل ....................................... 60
په غوږ کې اوبه يا تېل ننوتل ................................................................ 60
نابالغ چې روژه ماته کړي قضا پرې نشته ................................................ 60
د روژې مستحبات .............................................................................. 61
۱- په روژه ماتي کې تلوار کول ............................................................. 61
۲- په تازه کجورو روژه ماتول ................................................................ 62
۳- د روژه ماتي دعا ويل ....................................................................... 62

(c) ketabton.com: The Digital Library


۴- له روژه ماتي وروسته دعا ........................................................ 63
اعـتـکاف........................................................................................65
د اعتکاف فضائل.............................................................................65
د اعتکاف څو اړوند مسائل ...........................................................67
پای.................................................................................................69

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د اداري يادښت

د کائناتو رب د انسان له پيدا ايښت دمخه په دې عالم و، چې انسان کله په دنيايي چارو کې بوخت شي، زه ورڅخه هېر ېږم او بيا به زما عبادت ته هومره توجه او پاملرنه نه کوي څومره يې چې دنياوي چارو ته کوي، نو ورته ويې فرمايل چې انسانه زه تاته يوه بله موکه هم درکوم چې په هغې کې ته ماته ځان را نږدې کړې، هغه په کال کې يوه مياشت ده، په دې مياشت کې ته ماته ځان نږدې کړه ترڅو دې هغه روحاني نيمگړتياوې پوره شي چې په يوولسو مياشتو کې در پېښې شوي دي، دغه راز دې هغه نيمگړتياوې هم پوره شي چې په دغو مياشتو کې دې زماسره په اړيکو کې رامنځته شوي دي، تاته ښايي چې په دې مياشت کې هغه ټولي نيمگړتياوي پوره کړې چې په تېرو يوولسو مياشتو کې درپېښې شوي دي؛ ځکه چې دا د رحمتونو او برکتونو مياشت ده او په دې مياشت کې نفلي عبادت هم د فرضي برابر قبلېږي، او يو فرض د اوياوو فرضونو برابر منل کيږي؛ خو که له دې زريني موکې څخه دې گټه وانه خېستله او دومره توښه دې برابره نه کړه چې زه دې وبخښم، بيا نو ته ډېر کمبخته انسان يې.

(c) ketabton.com: The Digital Library


دا د روژې ټوله خلاصه ده، او په دې وخت کې چې الله پاک مسلمان ته د جنت لپاره کومې بهانې غواړي مسلمان بايد هغه درک کړي او ګټه ورڅخه واخلي.

افغان بنسټ چې غواړي په هېواد کې پوهه او دين ته د هېوادوالو پاملرنه نوره هم زياته شي، په پام کې لري چې د همداسې ورځو په مناسبت تاسو ته ګټور کتابونه او رسالې چمتو کړي؛ ترڅو پر خپل وخت د دې ورځو له ارزښت څخه خبر شئ؛ او دا چې روژه د کال تر ټولو غوره مياشت ده؛ ځکه مو د دې د احکامو او فضائلو د راټولولو لپاره هم د علمي څېړنو مديريت ته دنده ورکړه څو په دې اړه يوه لنډه رساله تياره او چاپ کړي، او د روژې له پيله وړاندې يې د هېواد ګوټ ګوټ ته ورسوي، چې دادی د علمي څېړنو د محترمو کارکوونکو د پرلپسې خواريو په پايله کې د روژې د فضائلو، مسائلو او احکامو رساله تياره شوه چې په بدل کې ورته له الله پاک څخه د ستر اجر غوښتونکی يم.

(مولوي) عبدالسلام ضعيف

د افغان بنسټ مشر

## د سريزې پرځای

# روژه يو ستر نعمت

روژه د الله پاک يو ستر نعمت دی؛ خو موږ به څنګه د دې نعمت په ارزښت پوه شو په داسې حال کې چې د ژوند ډېره برخه مو يوازې دنياوي پرمختګونو ته ځانګړې کړې ده او تل له سهار نه تر بېګا پورې په همدې فکر کې يو چې څنګه په دې ډګر کې پرمختګ وکړو! په داسې حالاتو کې به موږ څنګه پوه شو چې روژه يا رمضان د مسلمان له پاره د الله پاک له لورې يو ستر نعمت دی، په رمضان کې چې د الله پاک له لورې پر مسلمانانو کوم برکات نازلېږي د هغو درک هغو خلکو ته کيږي چې د دنيا پر ځای يې آخرت او مادياتو پرځای يې معنوياتو ته مخه وه لکه په دې حديث کې چې راځي: يو ځل رسول الله صلی الله عليه وسلم د رجب يا برات مياشت وليده؛ نو داسې دعا يې وکړه: اللهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِي رَجَبَ وَشَعْبَانَ وَ بَلَّغْنَا رَمَضَانَ.[1]

---

([1]) مجمع الزوائد ۲/ ۱۶۵

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژباړه: يا الله! موږ ته په رجب او شعبان کې برکت کېږدې، او تر رمضانه مو ورسوې. يعني موږ ته دومره عمر راکړې چې د رمضان مياشت مو نصيب شي.

له دې څخه موږ معلومولای شو چې رسول الله صلی الله عليه وسلم روژې ته څومره لېوال و!!

د همدې له برکت ډکې مياشتې د فضائلو او ځينو ضروري مسائلو د راټولولو په موخه د افغان بنسټ محترم مشرتابه د علمي څېړنو مديريت ته دنده ورکړه، چې د روژې په رارسېدو يوه داسې رساله يا کتابګوټی چمتو کړي چې د روژې اړوند مسائل او فضائل پکې څېړل شوي وي؛ تر څو يې درانه هېوادوال ولولي او د روژې برکتناکه مياشت په خپلو عبادتونو نوره هم ځلانده کړي، دغه راز په خپل وار سره د علمي څېړنو مديريت د تاليف او ژباړې آمريت ته دنده وسپارله څو په دې برخه کې کار وکړي، او د روژې له را رسېدو وړاندې ددې رسالې د ليکلو او چاپ کولو چارې بشپړې شي.
په دې لړ کې د علمي څېړنو محترم مدير مفتي صاحب عبد الرؤف، ښاغلي قاري صاحب محمدنور صديقي او ښاغلي مولوي صاحب سيف الله ساعي څخه مننه کوم چې د کتابه په بيا کتنه او د احاديثو او مسائلو په تخريج کې يې راسره مرسته وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


په پای کې له درنو لوستونکو څخه هیله کوم چې په دې له برکتونو ډکه میاشت کې د افغان بنسټ مشرتابه او کار کوونکي هم په خپلو نېکو دعاوو کې هېر نه کړي ترڅو په دې ناوړه شرائطو کې د پوهې په مټ د دین او هېواد پالنه وکړي.

عبدالحق حماد

د تالیف او ژباړې آمر

۱۴۳۳/۸/۱هـ ق

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د انسان د پیدایښت مقصد

الله پاک انسان د خپل عبادت لپاره پیدا کړی دی، لکه چې فرمایي: ((وَمَا خَلَقْتُ الْجِنَّ وَالْإِنْسَ إِلَّا لِيَعْبُدُوْنِ)) [الذاريات:٥٦] یعني: ما پیریان او انسانان یوازې د خپل عبادت لپاره پیدا کړي دي؛ نو ځکه دنیا ته د انسان د راتلو یوازینۍ موخه د الله پاک عبادت، او د آخرت ابدي ژوند ته توښه برابرول دي.

### ایا پرښتې د عبادت لپاره بس نه وې؟

اوس که د چا په زړه کې دا سوال پیدا شي چې د دې مقصد لپاره خو الله پاک له پخوانه پرښتې پیدا کړي وې؛ نو بیا د انسان د پیدا کېدو اړتیا څه وه؟ ددې ځواب دادی چې پرښتې الله پاک د عبادت لپاره پیدا کړي وې؛ خو دهغوی جوړښت داسې دی چې خلقتا په عبادت مجبوره وې؛ ځکه چې د هغوی په فطرت کې د عبادت ماده نغښتې وه او له عبادت پرته یې په خلقت کې د معصیت او نافرمانۍ ماده نه وه نغښتې؛ خو د انسان جوړښت ددې برعکس دی، د هغه په جوړښت کې یې د ګناه او معصیت ماده هم نغښتې ده او بیا یې ورته امر کړی چې د خپل رب عبادت کوه، له همدې امله پرښتو ته عبادت کول آسان کار و او له انسان سره، خواهشات، جذبات، خوښتونه، اړتیاوې او د ګناهونو

(c) ketabton.com: The Digital Library


هڅونکي شته؛ سره له دې ورته الله پاک امر کړی چې له دې ټولو شیانو به ځان ژغورې او زما عبادت به کوې.

## عبادات په دوه ډوله دي

دلته یوه بله خبره په پام کې نیول اړین دي هغه دا چې له یوې خوا ویل کیږي چې د مومن هر کار عبادت دی یعنې که یو مومن ښه نیت ولري او د اسلام له لارښوونو سره سم ژوند تېروي؛ نو د هغه خوراک ، خوب، خندا ، کاروبار، له مېرمنې سره خندا او خبرې، راشه درشه، دا ټول په عبادت کې شمېرل کیږي، اوس پوښتنه دا ده چې که له یوې خوا د مؤمن دا ټول حرکات په عبادت کې شمېرل کیږي او له بلې خوا لمونځ هم عبادت دی نو بیا ددې دواړو عبادتونو ترمنځ توپیر څه دی؟ نو ددې دواړو خبرو ترمنځ توپیر پېژندل اړین دي او ځینې خلک ددې توپیر د نه پېژندلو له امله له بېلاربیو سره مخ کیږي.

## لومړی ډول: بلا واسطه عبادت

د دې دواړو عبادتونو ترمنځ توپیر دادی چې یو ډول عبادت هغه دی چې مخامخ عبادت دی چې موخه ترې یوازې د الله پاک رضا ترلاسه کول دي او بل مقصد نه لري، دغه ډول عبادتونه یوازې د الله پاک د بندګۍ لپاره ټاکل شوي دي لکه: لمونځ، له لمانځه څخه یوازینۍ موخه دا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library


چې الله پاک ته سر ښکته کړل شي او بندګي یې وشي؛ نو دا د الله پاک مخامخ عبادت دی چې بله موخه نه لري، دغه راز روژه، زکات، حج، عمره، ذکر، تلاوت، دا ټول هغه عبادتونه دي چې دالله پاک له رضا پرته بله موخه نه لري.

## دوهم ډول: بالواسطه عبادت

د لومړي ډول برعکس ځینې اعمال هغه دي چې اصل مقصد یې نور څه وو، لکه دنیاوي اړتیاوې او خواهشات پوره کول؛ خو الله پاک د خپل ځانګړي فضل له مخې مؤمن ته وویل چې که ته خپل دنیاوي کارونه هم په ښه نیت، زما د دین په چوکاټ کې او زما د محبوب صلی الله علیه وسلم له طریقو سره سم ترسره کړې؛ نو زه د همداسې کارونو په بدل کې هم هغه ثواب درکوم لکه د لومړي ډول عبادت په بدل کې یې چې درکوم؛ له همدې امله دا مخامخ عبادت نه دی؛ بلکې بالواسطه عبادت دی او دا دعبادت دوهم ډول دی.

## بلاواسطه عبادت غوره دی

له دې تفصیل څخه دا څرګنده شوه چې مخامخ عبادت له بالواسطه عبادت څخه غوره دی، او ددې درجه ترهغه بل زیاته ده؛ له همدې امله الله تعالی چې د پیریانو او انسانانو د پیدا ینبت هغه خبره د کوم عبادت

(c) ketabton.com: The Digital Library


لپاره کړې ده، له هغې څخه لومړی ډول عبادت مراد دی، نه دوهم ډول چې بالواسطه عبادت دی. [1]

## د رمضان د هرکلي صحيح طريقه

په ننني اسلامي ټولنو کې ځينې خلک د رمضان د هرکلي په موخه له هغه نه څو ورځې وړاندې مجلسونه او ناستې جوړوي او د قرآنکريم په تلاوتونو او ديني ويناوو د روژې هرکلی کوي او خلکو ته په دې ډول دا ښيي چې موږ ګواکې روژې ته خوشحاله يو او هرکلی ورته وايو، دا ډېر ښه فکر دی؛ خو د وخت په تېرېدو کيدايشي دا چاره يو ضروري ديني رنګ خپل کړي چې خدای مکړه بيا به په دين کې له ځانه د يو کار د داخلولو په معنا وي، د رمضان د هرکلي اصلي طريقه دا ده چې د رمضان له راتلو وړاندې خپل د ژوند مهال وېش بدل کړل شي او ډېره برخه يې د الله پاک عبادت ته ځانګړې کړل شي، د رمضان له راتلو وړاندې فکر وکړئ چې زه څنګه کولای شم خپل ورځنۍ بوختياوې کمې کړم، که څوک په دې مياشت کې خپل ټول وخت د الله پاک عبادت ته ورکړي تر دې غوره خبره نشته او په دوولسو مياشتو کې يوه مياشت يوائې د الله پاک عبادت ته ځانګړې کول ښايي د انسان ټول ژوند نېکمرغه کړي او يوولس

---

([1]) اصلاحي خطبات ۱۰/۲۴-۲۷ ليکوال: مفتي محمد تقي عثماني

(c) ketabton.com: The Digital Library


نورې مياشتې يې هم ورته برکتي کړي، که داسې نه وي بيا نو کم ترکمه فکر وکړل شي چې کوم کارونه ډېر ضروري نه دي هغه دې په رمضان کې ودرول شي او يا دې محدود کړل شي تر څو د الله پاک عبادت ته کم ترکمه له نورو مياشتو ډېر وخت ورکړل شي، او که دا يو هم ونه شي؛ نو رمضان به راشي او همداسې به تېر شي او هيڅ به په لاس را نشي.

رمضان د الله پاک له لورې پر مسلمانانو يو ځانګړی رحم دی او هر مسلمان کولای شي په دې وخت کې له لږ پاملرنې سره آخرت ته ښه پانګه برابره کړي، موږ بايد د دې مياشتې هره ګړۍ غنيمت وګڼو او ګټه ورځخه واخلو بيا خدای پاک خبر دی چې تر راتلونکي روژې پورې به څوک مړه او څوک ژوندي وي.

او دا چې روژه د تربيې مياشت ده؛ نو بايد مسلمان د روژې له دې مياشتې وروسته هم هماغسې واوسي لکه په روژه کې چې و، خدای مکړه داسې نه وي چې په روژه کې يو ډول وي او وروسته بيا ناوړه کارونو ته مخه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د روژې تعریف

په ځانګړي وخت کې له خوراک، څښاک او جماع څخه منع کېدلو ته روژه وايي.

## د روژې تاریخ

روژه د آدم علیه السلام نه را پیل او تر رسول الله صلی الله علیه وسلم پورې پر ټولو قومونو په بېلابېلو ډولونو فرض شوې ده، الله پاک فرمايي: يَآيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَي الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ . **[البقرة: ١٨٣]**

ژباړه: اې مومنانو! پرتاسو باندې روژه داسې فرض شوې ده، لکه چې له ستاسو نه پرمخکنیو فرض شوې وه، ددې له پاره چې تاسې (له ګناهونو) ځان وساتئ (او پرهیزګاران شئ؛ ځکه چې روژه د شهواني توان ماتونکې ده).

په اسلام کې روژه لکه د ځینو نورو حکمونو په شان له هجرته وروسته په مدینه منوره کې فرض شوه، مکي دور د عقایدو د جوړولو، او د توحید د اصولو د ترسیخ او د ایماني او اخلاقي ارزښتو د لوړوالي دور و، او له هجرت وروسته، مسلمانانو یو

(c) ketabton.com: The Digital Library


پیاوړی ځواک ومومند، چې له همدې ځایه ډېرې فرائض هم پیل او حدود وټاکل شول، او د احکامو تفصیل رامنځته شو، چې یو له هغوی څخه روژه وه، په مکه کې له پنځو فرض لمونځونو پرته نور څه نه وو فرض کړای شوي، په دې چې دلمانځه اهمیت خورا لوی دی، او فرضیت يې د اسراء په شپه او د بعثت په لسم کال وشو.

له هغې پنځه یا څه زیات کاله وروسته روژه فرض کړای شوه، یعنې د هجرت په دوهم کال، او په همدې کال پرمسلمانانو جهاد هم فرض کړای شو، د روژې له فرضیت وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم نهه کاله ژوندی و او د هررمضان روژې یې په ډېره مینه او اخلاص ونیولې.

## د روژې مشروعیت

روژه یو داسې مشروع او فرض عمل دی چې په قرآن، حدیث او اجماع سره يې فرضیت ثابت دی او پر همدې د ټولو علماوو اتفاق دی.

## د رمضان روژې حکم

روژه یو بدني عبادت دی او د رمضان د روژې حکم فرض دی، الله تعالی فرمایي: يَاأَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَي الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُوْنَ.[**البقرة: ۱۸۳**]

(c) ketabton.com: The Digital Library


ژباړه : اې مومنانو! پرتاسو روژه داسې فرض شوې ده، لکه چې له ستاسو نه پرمخکنیو فرض شوې وه، ددې له پاره چې ځان ساتنه وکړئ.

**طلحة بن عبيد** الله رضي الله عنه وايي: يوه ورځ يو ببر سرى اعرابي **رسول الله** صلى الله عليه وسلم ته راغی او عرض يې وکړ: "**يارسول الله**! ماته ووايه چې خدای پاک څومره لمونځ راباندې فرض کړی دی؟ **رسول الله** صلى الله عليه وسلم ورته وويل: **پنځه لمونځونه؛ خوکه نفل** ورسره کوې (**هغه مستحب دي**)، **هغه بيا وويل** : **څومره روژې** راباندې فرض دي؟ **رسول الله** صلى الله ورته وويل: د رمضان مياشتې روژې **خو که نفل** ورسره نيسې (**هغه مستحب دي**)، **هغه بيا پوښتنه وکړه**: راته ووايه چې څومره زکات راباندې فرض دی؟ نو **رسول الله** صلى الله عليه وسلم د زکات او د اسلام د نورو احکامو په اړه معلومات ورکړل نو اعرابي **وويل**: په هغه ذات قسم چې تاته يې عزت درکړی! زه به نه له دې څخه څه زيات کړم او نه به څه کم کړم، د نوموړي په دې خبره **رسول الله** صلى الله **وويل**: که ريښتيا يې ويلي وي؛ نو کامياب دی –اويا- که ريښتيا يې ويلي وي، جنتي دی. " [1]

**له حديث څخه د استدلال توري:** د اعرابي دا وينا چې: "څومره روژې راباندې فرض دي؟ " .

---

([1]) صحيح البخاري، كتاب الصوم، باب وجوب صوم رمضان، حديث رقم **(1891)**.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د روژې حکمت او فلسفه

د رمضان روژې په فرضيت کې د الله پاک لوی حکمتونه، غوره مقاصد او ښې پايلې نغښتي دي چې ځينې يې په لاندې ډول دي:

١- په زړه کې اخلاص او تقوی رغېدل، ځکه چې له روژې څخه د روژه نيونکي يوازينۍ موخه د الله جل جلاله رضا او آخرت ته توښه برابرول او د الله وېره مقصد وي، له همدې امله د روژې د فرضيت آيت هم په دې ټکو پای ته رسېدلی چې: **لعلکم تتقون**. معنا دا چې ښايي تاسو د همدې فرضيت په ادا کولو د تقوی درجې ته ورسيږئ او ځانونه له هغه څه څخه وساتئ چې نه درسره ښايي.

٢- روژه روح ته غزا ورکوي، نفس ته د استقامت ځواک ورکوي او د زړه په پاکوالي کې مرسته کوي.

٣- روژه په انسان کې ارادي ځواک، د تکل رښتونوالی، او د نفس د ناوړه عادتونو له منځه وړلو ځواک پياوړی کوي او د صبر په مټ د تکليفونو ګاللو وړتيا وربخښي. دغه راز روژه د انسان عقل پر شهواتو غالبوي چې بيا د همدې په مټ د شر پر ځای د خير کارونو ته ډېر متوجه کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۴- روژه بشري نفس ته هم روزنه ده، د انسان عادت دادی چې د يو نعمت په ارزښت هله پوهيږي چې ورڅخه بې برخې شي او يا ورته اړ شي؛ نو روژه نيونکی چې کله د لوږې درد ويني، د نېستمنو او بې وزله خلکو له حاله خبريږي او د هغوی مرستې او لاسنيوي ته يې پام را اوړي.

۵- په روژه نيولو کې له روحاني مخلوق او مقربو پرښتو سره مشابهت دی؛ نو مسلمان ته ښايي چې په روژه کې د پرښتو په شان يوازې د الله په ذکر، تسبيحاتو، تلاوت او دعاوو بوخت وي او يوازې د خيټې په غم کې نه وي ورک.[1]

## د روژې ځينې روغتيايي ګټې

روژه نيول که له يوې خوا د الله پاک حکم ته لبيک ويل دي چې په بدل کې يې هغه ثوابونه ترلاسه کيږي چې د نورو ډېرو عبادتونو په پايله کې نه ترلاسه کيږي، له همدې امله الله پاک په يو قدسي حديث کې فرمايي: د بني آدم ټول عملونه د هغه دي؛ خو روژه زما ده او زه به يې پخپله بدله ورکوم.

(1) حكمة التشريع وفلسفته: ۱۳۲-۱۳۷ط: المكتبة الحقانية

(c) ketabton.com: The Digital Library


لـه بلـې خـوا د رمضـان د میاشـتې روژه د بـې شـمیره دینـي، دنیـوي، روحي او ټولنیزو ګټو سربیره یو لړ روغتیایي ګټې هم د انسان بدن ته لـه ځانه سره لـري، رسـول الله صـلی الله علیـه وسـلم فرمـایلي دي: ( د روژې د نیولو په وسیله روغتیا موندلای شئ).

دلته د روژې ځیني روغتیایي ګټې په لنډ ډول را اخلو:

**لومړی**: روژه د چاغوالي مخنیوی کوي، روغتیاپالان پـه دې آند دي چې د رمضـان د میاشـتې د روژې پـه لـړ کـې د انسـان د بـدن د وازګـو یـا چربۍ زیاته برخه اوبیږي چې پـه دې وسـیله د هغـه انسـانانو د بـدن لپـاره حیـاتي موضـوع ده چې د چـاغوالي پـه سـتونزه او نـاروغۍ اختـه وي، د داسې خلکو خېټه بیرتـه نورمـال حالـت تـه راځـي او لـه یـوه غـوره صحت څخه برخمن کیږي. د وازګو دغه راز اوبه کیـدل د هغـه کسـانو لپـاره هـیڅ زیان نه رسوي چې بدنونه یې چست او چالاک دي بلکې د دې ډول روغـو انسـانانو پـه نشـاط کـې د پام وړ زیاتوالی منځته راوړي.

**دویم**: روژه معده تصفیه کوي، د انسـان معـده د کـال پـه اوږدو کـې د ډول ډول خوراکونـو لـه کبلـه لـه یـو شـمیر نـاروغیو، تکـالیفو، سـتونزو، ستړیاوو او ناخوالو سره مخ کیږي چې د دغـه ډول نـاروغیو او احتمـالي سـتونزو مخنیـوی او تـر ټولـو ښـه درمـل د رمضـان د میاشـتې روژه ده او معده په داسې ډول تصفیه کوي چې د خپلو راتلونکو فعـالیتونو لپـاره پـه ښـه توګـه تیـاره شـي. همدارنګـه د دغـه ډول تصـفیې بهیـر نـه یـوازې د

(c) ketabton.com: The Digital Library


انسان پر معده باندې صورت مومي بلکې د روژې د حکمت، روغتيايي ګټو او برکت له کبله د انسان د بدن پر ټولو غړو او فعاليتونو باندې اجرا او د راتلونکو فعاليتونو لپاره په غوره توګه اماده کيږي.

**دريم**: روژه بدن ته هراړخيزه روزنه ورکوي، د انسان بدن هم له هراړخيز پلوه لازمې روزنې او ټريننګ ته اړتيا لري چې دغه ډول روزنه يوازې د رمضان د مياشتې په روژه کې د بدن لپاره مهيا کيږي چې ګڼې روغتيايي ګټې لري. همدارنګه له روحي اړخه هم روژه د بدن لپاره د يوه داسې ټريننګ حيثيت لري چې د هر ډول ستونزې په مقابل کې ورسره د صبر او طاقت مرسته کوي.

**څلورم**: روژه بدن ته فسيالوجي استراحت په برخه کوي، د طبي ماهرانو په نظر د انسان بدن د کال په اوږدو کې له ډول ډول کړاونو او ستونزو سره مخ کيږي او د بدن ټول غړي يې د ډول ډول خوړو د خوراک له کبله د ستړيا احساس کوي چې روژه دغه ډول فسيولوجي ستړيا ته د استراحت او دمې تر ټولو غوره وسيله ده چې د يوه مناسب وخت لپاره دمه وکړي، لازمه انرژي حاصله کړي او د راتلونکو فعاليتونو لپاره ښه تياري و نيسي.

**پنځم**: روژه انسان ته ذهني څواکمنتيا په برخه کوي، تجربو ښوولې ده څومره ذهني تمرکز چې يو انسان ته په روژه کې ترلاسه کيږي په بل وخت کې د داسې يوه تمرکز شونتيا ورته ممکنه نه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library


همدارنگه د رمضان د مياشتې د روژې پر مهال د انسان معده او زړه د يوه بې مثاله صبر په درشل کې قرار لري او د زياتره هغو څيزونو سره يې فکر نه وي چې له روژې پرته يې په خيال کې را گرځوي چې همدغه فرصت ذهن ته يو غوره تمرکز، ځواکمنتيا او وينستابه په برخه کوي. البته دا ځواکمنتيا هغه چاته په برخه کيږي چې په رښتني معنا د دې مياشتې په اهميت و پوهيږي، له سستۍ او لټۍ څخه ځان و ژغوري.

**شپږم**: روژه د شکرې د ناروغتيا لپاره گټوره ده روژه د دې سبب کيږي چې انسان تر ډيره حده په دې مياشت کې د خوړو په خوړو کې کموالی راولي چې دغه راز کموالی د شکرې په ناروغتيا باندې د اخته کسانو لپاره گټوره ده، وينې ته فرصت په لاس ورکوي چې کوليسترول کم کړي او حتی د وينې د فشار د کمېدو سبب هم کيږي. داسې هم کيدا يشي که يې ناروغي په لومړيو مرحلو کې وي نو د دې احتمال شته، چې د روژې د نيولو په وسيله له دې ناروغي څخه په بشپړه توگه روغ شي. له بلې خوا روژه د شکرې ناروغتيا ته اجازه نه ورکوي چې په زياته پيمانه د انسان پر جسم حمله وکړي.

**اووم**: روژه د بدني فعاليتونو د گډوډيو مخه نيسي، کله کله د انسان بدن د ځينو عواملو له کبله د خپلو فعاليتونو د گډوډيو له يوې مرحلې سره مخ کيږي چې نودا گډوډۍ د راز راز روغتيايي تکليفونو باعث کيږي؛ خو روژه د دغه راز گډوډيو او اختلالاتو مخنيوی کوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library


دانسان بدن داسې عیاروي چې خپلو فعالیتونو ته په یوه منظمه کړښه د خوځېدو فرصت په لاس ورکړي.

په همدې توګه د رمضان د میاشتې روژه زیاتې روغتیایي ګټې له ځان سره لري چې د ځینو محدودو ګټو یادونه یې دلته وشوه.[1]

## د روژې فضائل

♣- الله پاک فرمایي: شَهْرُ رَمَضَانَ الَّذِيٓ أُنزِلَ فِيهِ الْقُرْاٰنُ هُدًى لِّلنَّاسِ وَ بَيِّنٰتٍ مِّنَ الْهُدٰى وَالْفُرْقَانِ . [البقرة 185]

ژباړه : د رمضان میاشت خو هماغه ده چې قرآن پکې نازل شوی دخلکو لپاره لارښود ، د هدایت ښکاره نښې او د حق او باطل بېلونکی (کتاب) دی.

♣- رمضان د توبې، او مغفرتونو میاشت ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: پنځه لمونځونه، یوه جمعه تر بلې جمعې پورې او یو رمضان تر بل رمضان پورې د مسلمان ګناهونه له منځه وړي ترڅو یې چې لوی ګناهونه نه وي کړي.[2]

---

([1]) له ګل آغا احمدي څخه په مننه

([2]) صحيح مسلم، كتاب الطهارة، باب فضل الوضوء والصلاة عقبه، حديث رقم (552).

(c) ketabton.com: The Digital Library


♣- څوک چې د رمضان روژې پر الله د ښه باور او ثواب په نيت ونيسي الله ورته پخواني ټول ګناهونه بخښي، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: چا چې له ايمان سره او د ثواب په نيت د رمضان روژې ونيولې، الله يې پخواني (واړه) ګناهونه بخښي،[1] بل حديث کې فرمايي: چا چې له ايمان سره او ثواب په نيت د رمضان شپې الله ته په عبادت تېرې کړې، د هغه پخواني ټول (واړه) ګناهونه بخښل کيږي،[2] او په دريم حديث کې فرمايي: چاچې له ايمان سره او ثواب په هيله د قدر شپه الله ته په ولاړه تېره کړه، دهغه پخواني ټول (واړه) ګناهونه به وبخښل شي.[3]

♣- رمضان له اور څخه د خلاصون مياشت ده، رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: په رمضان کې هره شپه يو آواز کوونکی ناري وهي چې: اې د خير غوښتونکيه وړاندې شه! او اې د شر غوښتونکيه تم شه! نن الله پاک ډېر خلک له اوره خلاصوي؛ نو ښايي ته هم د هغو په کتار کې راشې او دا (آواز او له اوره خلاصون د روژې ) په هره شپه کې وي.[4]

سندي رحمه الله د دې حديث په شرحه کې ليکي: معنا دا چې اې د خير غوښتونکيه د خير کارونو ته وړاندې شه؛ ځکه چې همدا ستا سره

---

(1) صحيح البخاري، كتاب الإيمان، باب: صوم رمضان احتسابا من الإيمان، حديث رقم (38).
(2) صحيح البخاري، كتاب الإيمان، باب: تطوع قيام رمضان من الإيمان، حديث رقم (37).
(3) صحيح البخاري، كتاب الإيمان، باب: قيام ليلة القدر من الإيمان، حديث رقم (35).
(4) جامع الترمذي، أبواب الصوم، باب ما جاء في فضل شهر رمضان، حديث رقم (682).

(c) ketabton.com: The Digital Library


وړ ده، تاته به د لږ عمل په بدل کې ډېر څه درکړل شي، او اې د شر غوښتونکيه له ګناهونو لاس واخله او توبه وباسه! ځکه چې همدا د توبې د قبلېدا وخت دی.

♣- په رمضان کې د جنت دروازې پرانيستي او د دوزخ دروازې بندي وي او شيطانان تړلي وي، په يو حديث کې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: رمضان چې راشي د جنت دروازې پرانستل شي او د دوزخ دروازې بندي کړل شي او شيطانان په ځنځيرونو وتړل شي. [1]

♣- رمضان د صبر مياشت ده او صبر چې په روژه کې ښکلا خپلوي په نورو عبادتونو کې يې نه خپلوي، په دې مياشت کې مسلمان خپل نفس له شهواتو او خوښو شيانو څخه بندوي، له همدې امله روژې ته نيم صبر ويل شوی او د صبر جزا جنت دی، الله پاک فرمايي: إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ. **[الزمر 10]**

ژباړه: او يقينا چې صبر کوونکو ته بې حسابه پوره پوره بدله ورکول کيږي.

♣- رمضان د دعاګانو د قبلېدو مياشت ده، الله پاک د روژې له يادونې سمدستي وروسته داسې فرمايي: وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِي عَنِّي فَإِنِّي قَرِيبٌ ۖ أُجِيبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ . **[البقرة: 186]**

---

(1) صحيح مسلم، کتاب الصيام، باب فضل شهر رمضان، حديث رقم (2493).

ژباړه : او چې بندګان مې زما په اړه تا کله وپوښتي نو (ورته ووايه چې) زه بالکل نژدې يم، د غوښتونکو سوال قبلوم کله چې ما وربولي.

او رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي: (د درې کسانو دعا نه رد کيږي : روژه نيونکی چې ترخو روژه ماتوي، د عادل امام دعا ، او د مظلوم ښيرا) [1]

♣- رمضان د سخاوتونو او ښېګڼو مياشت ده، له همدې امله په روايتونو کې راځي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم به په رمضان کې ترهغه باد هم ډېر سخي و چې هر چاته ګټه رسوي. [2]

♣- رمضان د ليلة القدر مياشت ده، هغه چې د هغې يوې شپې عبادت الله پاک د زرو مياشتو له عبادت نه زيات ګڼلی، او څوک چې ددې شپې له خير څخه بې برخې شي، هغه له ټولو خيرونو څخه بې برخې دی، په يو حديث کې راځي چې يو ځل د رمضان له راتلو سره سم رسول الله صلی الله عليه وسلم صحابه کرامو ته وويل: د رمضان مياشت پر تاسو را ورسېدله، دا ډېره مبارکه مياشت ده، الله تعالی ددې مياشتې روژې پر تاسو فرض کړي دي، په دې مياشت کې د جنت دروازې

---

([1]) مسند أحمد، مسند المكثرين من الصحابة، مسند أبي هريرة، حديث رقم (8079).

([2]) صحيح البخاري، كتاب الصوم، باب: أجود ما كان النبي صلي الله عليه وسلم يكون في رمضان، حديث رقم (1902).

له دې تشبيه څخه د رسول الله صلی الله عليه وسلم ډېر زيات سخاوت مراد دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library


پرانستل کيږي او د دوزخ دروازې تړل کيږي، او شيطانان په ځنځيرونو تړل کيږي، او په دې کې يوه داسې شپه ده چې له زرو مياشتو نه غوره ده، څوک چې د هغې ورځې له خير څخه بې برخې شي، هغه له هر خير نه بې برخې شو.[1]

♣- حضرت ابوهريره رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: روژه (د مسلمان له پاره له ګناهونو او دوزخ څخه) ډال دی، نو نه دې پکې ناوړه خبرې کوي او نه دې چاسره جنجال کوي او که څوک ورسره جنګ کوي او يا ورته سپکې سپورې وايي؛ نو دی دې ورته ووايي چې ما روژه نيولې ده، دا يې دوه ځله وويل او بيا يې وفرمايل: په هغه ذات مې دې قسم وي چې زما روح يې په ولکه کې دی! د روژه نيونکي د خولې بوی د الله په نيز له مشکو نه ډېر خوږ دی، بيا يې وفرمايل: الله تعالی فرمايي: زما بنده چې خوراک، څښاک او شهوت زما د امر له امله پرېږدي نو زه يې پخپله جزا ورکوم؛ ځکه چې روژه زما ده او زه به د هرې نېکۍ په بدل کې لس نېکۍ ورکوم " [2]

♣- حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: " د جنت يوه دروازه ده چې "ريان" ورته ويل کيږي، له هغې دروازې څخه به يوازې روژه نيونکي مسلمانان جنت ته

---

([1]) مسند أحمد، مسند المكثرين من الصحابة، مسند أبي هريرة، حديث رقم (7179).

([2]) صحيح البخاري، كتاب الصوم، باب فضل الصوم، حديث رقم (1894).

داخلیږي او اعلان به کیږي چې: روژه نیونکي چیرې دي!! نو هغوی به را ولاړ شي او چې ننوځي هغه دروازه به د نورو خلکو پر مخ وتړل شي" [1]

♣- رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: روژه او قرآن د الله په دربار کې بنده لپاره د بخښنې سپارښتنه کوي، روژه به وایي: اې ربه! داسړی ما د ورځې له خوا له خوراک، څښاک او جماع څخه منع کړی و؛ نو دده په حق کې زما شفاعت قبول کړه، او قرآن به وایي: اې ربه! دا بنده ما د شپې له خوب څخه منع کړی و؛ نو دده په حق کې زما شفاعت قبول کړه، الله پاک به د دواړو شفاعت قبول کړي.[2]

♣- دروژې لومړنۍ لس ورځې د رحمت، منځنۍ لس یې د بخښنې او وروستۍ لس یې له اور څخه د خلاصون ورځې دي.[3]

♣- روژه د الله تعالی او بنده تر منځ یو راز دی، هغه چې بل چاته نه ښکاري، معنا دا چې په روژه کې که څوک وغواړي کولای شي له خلکو پټ روژه وخوري؛ خو د الله پاک له وېرې یې نه خوري؛ ځکه مومن باور لري چې الله مې په هر ځای کېویني، له همدې امله دا عبادت د الله او بنده ترمنځ راز دی او نور عبادتونه داسې نه دي. [4]

---

([1]) صحیح البخاري، کتاب الصوم، باب: الریان للصائمین، حدیث رقم (1896).
([2]) (رواه البیهقي في شعب الایمان، کذا في مشکوة المصابیح۲/ ۳۴۰ ط: مکتبة البشری
([3]) (مشکوة ۱۷٤)
([4]) تفسیر القرطبي 2/ 183-184، طبعة دار الکتب العلمیة (1426هـ - 2005م).

(c) ketabton.com: The Digital Library


♣- ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل: مسلمان ته د هر نېک عمل په بدل کې له لسو څخه تر اووه سوه پورې نېکۍ ورکول کيږي؛ خو الله پاک وايي چې روژه زما ده او زه به پخپله د دې بدله ورکوم؛ ځکه چې بنده زما د امر له امله خپل شهوات تر پښو لاندې کوي او خوراک او څښاک نه کوي، روژه نيونکي ته دوه خوشحالۍ دي: يوه د روژه ماتي پر وخت او بله هغه وخت چې له خپل رب سره مخامخ شي، او د روژه نيونکي د خولې بوی د الله په نېز له مشکو هم خوږ دی...[1]

## په ښکاره روژه خوړل

په دې خبره د ټولو علماوو اتفاق دی چې که څوک روژه نه نيسي او له فرضيت څخه يې هم انکار کوي، هغه له اسلامه وتلی دی، او که څوک له کوم عذر پرته د رمضان روژه وخوري خو له فرضيت څخه يې انکار نه کوي، هغه مسلمان دی؛ خوسخت ګناهګار دی

او که څوک له کوم عذر پرته په ښکاره روژه خوري او د ديني شعائرو سپکاوی کوي، هغه فاسق دی، مسلمان خليفه بايد داسې سزې ووژني ترڅو نور خلک په ښکاره روژو خوړلو جرئت ونه کړي.[2]

---

([1]) صحيح مسلم، کتاب الصيام، باب فضل الصيام، حديث رقم (2705).
([2]) الفتاوى الشامي ۲/ ۱۵۱

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د رمضان روژه پرچا فرض ده؟

د رمضان روژه په لاندې يادو خلکو باندې فرض ده:

۱ -مسلمان .

۲- عاقل .

۳- بالغ .

۴- مقيم.

۴- چې د روژې نيولو ځواک ولري.

۵- چې له موانعو څخه خالي وي (لکه حيض او نفاس).

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د میاشتې په لیدلو سره روژه نیول

د شعبان په نهه وېشتمه ورځ باید خلک د رمضان د میاشتې لټه وکړي؛ نو که ولیدل شوه سبا دې روژه ونیسي او که ونه لیدل شوه بیا دې د شعبان دېرش ورځې پوره کړي[1]

حضرت ابوهریره رضي الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: د میاشتې په لیدلو سره روژه پیل کوئ او په لیدلو سره یې پای ته رسوئ او که د رمضان میاشت پټه شي، بیا د شعبان (برات) میاشتې دېرش ورځې پوره کوئ. (2)

## د شک د ورځې روژه

د شعبان په دېرشمه که چا په دې نیت روژه ونیوله چې که سبا رمضان و، د رمضان به یې شمار کړي او که رمضان نه و، نفلي به شي، دا روژه مکروه ده. [3]

---

([1]) تبیین الحقائق ۲/ ۱۵۵-۱۵۶، کتاب الصوم.

([2]) صحیح البخاري ۱/۲۵۶

([3]) مراقي الفلاح، ص: ۳۷۷

# د روژې شرطونه او ارکان

## ۱- نيت کول

د هر نېک کار د قبلېدو له پاره نيت کول اړين دی، له همدې امله د احاديثو ډېری کتابونه د نيت په حديث پيل شوي دي، او دا چې روژه هم يو عبادت دی؛ نو دې ته هم نيت ضرور دی، که يو څوک ټوله ورځ خوراک او څښاک ونه کړي خوچې نيت يې نه وي کړی روژه يې نه سهي کيږي، البته نيت په دوه ډوله دی: يو دا چې په خوله ووايي او بل دا چې په زړه کې نيت وکړي؛ نو په خوله نيت کول اړين نه دی بلکې که څوک له شپې څخه په زړه کې نيت وکړي چې سبا به روژه نيسم، يا پېشمني ته را ولاړ شي، دا هم نيت دی؛ خو که په ژبه نيت وکړي ډېره غوره ده.

بله دا چې که په رمضان کې څوک د قضايي روژې نيت وکړي او ووايي چې سبا به قضايي يا نفلي روژه نيسم او بيا به د همدې ورځې قضايي بل وخت را وګرځوم، نو سره له دې نيت يې دا ورځ قضايي نه؛ بلکې فرضي روژه ګرځي ځکه چې دا مياشت خدای پاک يوازې د فرضي روژو لپاره ټاکلې ده.

او که چا د شپې له خوا د روژې نيت نه و کړی، نه پېشلمي ته را ولاړ شوی و، او سهار فکر ورغی چې دا خو نا روا کار دی چې روژه خورم؛

(c) ketabton.com: The Digital Library


نو کولای شي چې له غرمې نه تر يو ساعت وړاندې پورې نيت وکړي؛ خو په دې شرط چې تر دې وخته پورې به يې داسې کار نه وي کړی چې روژه پرې ماتيږي. [1]

دغه راز د روژې هرې ورځې ته بايد جلا نيت وشي. [2]

## ۲- له خوراک، څښاک او جماع څخه ځان ژغورل

الله پاک فرمايي: ثُمَّ أَتِمُّوا الصِّيَامَ إِلَى اللَّيْلِ. [البقرة: ۱۸۷]

ژباړه: بيا مو ان تر شپې (ماښام) پورې روژه پوره کړئ.

او د رسول الله صلی الله عليه وسلم دا وينا چې له خپل رب جل جلاله څخه يې روايت کوي: "......زما بنده زما (د امر) له امله خوراک، څښاک او شهوت پرېږدي". [3]

---

([1]) البحرالرائق ۲/ ۴۵۲، کتاب الصوم، ط: رشيديه
([2]) تبيين الحقائق ۲/ ۱۴۸
([3]) صحيح البخاري، کتاب الصوم، باب فضل الصوم، حديث رقم (1894).

(c) ketabton.com: The Digital Library


# هغه کارونه چې روژه نيونکي ته روا دي

## ۱- د شپې له خوا خوراک، څښاک او جماع

د الله پاک ددې فرمان له امله: أُحِلَّ لَكُمْ لَيْلَةَ الصِّيَامِ الرَّفَثُ إِلَى نِسَآئِكُمْ...... وَكُلُوا وَاشْرَبُوا حَتَّى يَتَبَيَّنَ لَكُمُ الْخَيْطُ الأَبْيَضُ مِنَ الْخَيْطِ الأَسْوَدِ مِنَ الْفَجْرِ. [البقرة: ۱۸۷]

ژباړه: د روژې په شپه له خپلو ښځو سره نژدېوالى (کوروالى) درته حلال شوى.....او خورئ څښئ ترهغو چې د سبا سپينه کرښه له توري کرښې درته راڅرګنده شي.

## ۲- د سهار تر اول وخته د پېشمني وروسته کول

تېر ايت ، او د سهل بن سعد رضي الله عنه دا وينا چې وايي: ما به په کور کې پېشلمى کاوه او بيا به په تلوار نبوي جومات ته تللم چې له رسول الله صلى الله عليه وسلم سره لمونځ وکړم. [1]

له دې حديث څخه دا هم معلومه شوه چې صحابه کرامو به په پېشنمي کې تاخير کاوه او په روژه کې به يې د سهار لمونځ وختي کاوه.

---

(1) صحيح البخاري، کتاب الصوم، باب تأخير السحور، حديث رقم (1920).

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ۳- که د ورځې معلومه شي چې رمضان دی، د ورځې نيت کولای شي

حضرت سلمه بن الاکوع رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم د عاشورا په ورځ يو سړی ولېږه چې په خلکو کې اعلان وکړي چې که چا خوراک کړی وي هغه دې روژه پوره کړي او که چا خوراک نه وي کړی هغه دې په خپل حال پاتې شي او خوراک دې نه کوي" [1]

په ابتدا کې پر مسلمانانو د عاشورا د ورځې روژه فرض وه؛ له دې حديث څخه دا معلومه شوه چې که چا د شپې له خوا د روژې نيت نه وي کړی او د ورځې څرګنده شي چې دا ورځ د رمضان لومړۍ ده؛ نو له ورځې څخه يې نيت کولای شي.

خو دا په دې صورت کې چې تر هغه وخته يې خوراک، ياڅښاک، يا جماع نه وي کړي او که يې کړي و، بيا هم پرې لازمه ده چې په همدې ورځ تر ماښامه داسې کار ونه کړي چې روژه پرې ماتيږي او بيا به له رمضان وروسته د همدې ورځې قضايي راګرځوي. [2]

---

([1]) صحيح البخاري، كتاب الصوم، باب: إذا نوى بالنهار صوما، حديث رقم (1924).

([2]) مسائل رفعت قاسمي، دوهم ټوک، مسائل روزه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ۴ - هغه چې پر ځان کابو لري، له مېرمنې سره لوبې کولای شي

حضرت عائشه رضي الله عنها وايي : "رسول الله صلى الله عليه وسلم به په روژه کې له خپلو مېرمنو سره مباشرت (له جماع پرته ساتيری) کاوه او هغه تر هر چا په خپل شهوت کابو درلودی". [1]

## ۵ - په سفر کې د روژې خوړل

حضرت عائشه رضي الله عنها وايي: حضرت حمزه بن عمرو اسلمي رضي الله عنه به ډېرې روژې نيولې، يوه ورځ يې پيغمبرصلى الله عليه وسلم نه پوښتنه وکړه ويل يارسول الله! په سفر کې روژه ونيسم که نه؟ رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وويل: "که خوښه دې وي ويې نيسه او که نه، ويې خوره ". [2]

## ۶ - پوره اودس کول خو په مضمضه او استنشاق کې احتياط کول

عاصم بن لقيط بن صبره رحمه الله د خپل پلار له خولې په يو حديث کې وايي چې ما يوه ورځ له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه پوښتنه وکړه: يارسول الله ! د اوداسه په اړه که معلومات راکړې!! راته يې

---

([1]) صحيح البخاري، کتاب الصوم، باب المباشرة للصائم، حديث رقم (1927).

([2]) صحيح البخاري، کتاب الصوم، باب الصوم في السفر، حديث رقم (1943).

(c) ketabton.com: The Digital Library


وفرمايل: پوره اودس کوه، ګوتې خلال کوه او له روژې پرته په نورو وختونو کې په مضمضه او استنشاق (خولې او پوزې مینځلو) کې بنه کوشش کوه" [1]

## د روژې ماتوونکي

## هغه شيان چې کفاره او قضا دواړه لازموي

### ١- خوراک او څښاک

د قرآنکريم دا ايت چې وړاندې هم تېرشو: ثُمَّ اَتِمُّوا الصِّيَامَ اِلَى الَّيلِ.

او هغه حديث چې يوازې له هېرونکي څخه د خوراک او څښاک وبال پورته شوی و.

---

[1] سنن أبي داود، كتاب الطهارة، باب: في الاستنثار، حديث رقم (142).

(c) ketabton.com: The Digital Library


### ۲- جماع

که چا له سپېدو وروسته له مېرمنې سره د روژې په حال کې کوروالی وکړ، نو که انزال یې شوی وي او که نه وي شوی، روژه یې ماته شوه، قضا به هم راګرځوي او کفاره به هم ورکوي. [1]

## هغه شیان چې روژه پرې ماتېږي او یوازې قضا یې لازمېږي

### ۱- قصدا په ډکه خوله قی کول:

ابوهریره رضي الله عنه روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وویل: " چاته چې قی ورپېښ شي او کابو پرې را نه ولي پر هغه قضا نشته او که څوک قصدا او په لوی لاس قی وکړي هغه دې قضا راوړي" [2]

او که چاته په ډکه خوله قی پېښ شو او د یوه نخود د دانې په اندازه قی یې بېرته تېر کړ، روژه یې ماتېږي. [3]

---

([1]) الفتاوي الهنديه ۲۰۵/۱

([2]) جامع الترمذي، أبواب الصوم، باب: في من استقاء عمدا، حديث رقم (**720**).

([3]) ردالمحتار علي الدرالمختار ۳/ ۴۵۰ كتاب الصوم، مطلب في الكفارة.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ۲- حيض او نفاس :

په دې کې فرق نشته چې که د حيض يا نفاس وينه د ورځې په سر کې راشي او که په پای کې، اګر که له ماښام نه يو څو شيبې وړاندې هم راشي روژه يې ماتيږي.

حضرت ابو سعيد خدري رضي الله عنه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم د لوی اختر يا کوچني اختر په ورځ عيدګاه ته روان و پر لاره يې څو مېرمنې وليدلې نو ورته ويې ويل: ايا داسې نه ده چې مېرمن کله حايضه شي؛ نه لمونځ کوي او نه روژه نيسي؟ هغوی وويل: هو همداسې ده، رسول الله صلی الله عليه وسلم وويل: همدا يې د دين نقصان دی. [1]

## ۳- په زوره پر چا روژه ماتول

که څوک په زور روژې ماتولو ته اړيستل شو، روژه يې ماتيږي خو کفاره پرې نشته يوازې قضا به يې راګرځوي، دغه راز په ډنډ کې د

---

([1]) صحيح البخاري، كتاب الحيض، باب ترك الحائض الصوم، حديث رقم (304).

(c) ketabton.com: The Digital Library


لمبېدو پر مهال که د چا ستوني ته اوبه تيري شي روژه يې ماتيږي اګر که بل څوک يې په زوره غوپه کړي.[1]

### ۴- په لوی لاس (په قصد سره) دود تېرول

که څوک په قصد سره حلق ته دود ننباسي، روژه يې ماتيږي.[2]

### ۵- سګريټ يا چلم څکول

په سګريټ يا چلم څکولو سره هم روژه ماتيږي.[3]

### ۶- د پېشمني په وخت کې تېروتل

که چا په دې شک پېشمني يوه يا دوه دقيقې وروسته کړ چې ښايي لا به سهار شوی نه وي او وروسته څرګنده شوه چې سهار را ختلی و، هغه دې دا روژه پوره کړي او په بدل کې دې له رمضان وروسته يوه بله روژه ونيسي او کفاره پرې نشته.[4]

---

([1]) الفتاوى العالمكيرية ١/ ٢٢٢، كتاب الصوم، الباب الرابع فيما يفسد و ما لايفسد، ط: دارالكتب العلمية، بيروت.

([2]) ردالمحتار علي الدرالمختار، ٤٢١/٣، وايضا في جواهر الفقه لمحمدشفيع رحمه الله٥١٨/٣.

([3]) الفتاوى العالمكيرية ١/ ٢٠٢ ماخذه: فتاوى محموديه ١٠/ ١٣٨

[4]: مراقي الفلاح، ص: ٣٦٩ ط: قديمي كتب خانه

## ۷- د روژه ماتي په وخت کې تېروتل

که يو چا په دې فکر روژه ماته کړه چې ښايي لمر لوېدلی وي؛ خو وروسته ښکاره شوه چې لمر نه دی لوېدلی، روژه يې ماته شوه، قضا به يې راګرځوي، کفاره پرې نشته. [1]

دغه راز په لاندې يادو کارونو سره هم روژه ماتيږي:

۸- د غړغړې پر وخت حلق ته اوبه تېرېدل.

۹- مېرمنې سره د لوبو يا ښکولولو پر وخت انزال کېدل.

۱۰- يو داسې شی ستوني ته تېرېدل چې په عادتي ډول نه خوړل کيږي، لکه د لرګي ډکی، د وسپنې ټوټه او داسې نور.

۱۱- په هېره يو شی خوړل او بيا په دې فکر قصدا خوراک کول چې کيدای شي روژه يې ماته شوې وي، په دې سره هم روژه ماتيږي او قضا به يې راګرځوي. [2]

۱۲- په وينټولين يا د سالنډۍ سپرې کارولو سره هم روژه ماتيږي، (وينټولين يو ډول درمل دي چې د ساېنډۍ ناروغان يې د خولې له لارې د يو ډول فشاري سپرې په مټ کاروي) نو که کوم ناروغ له دې درملو

---

[1]: جواهرالفقه للشيخ محمدشفيع رحمه الله۳/ ۵۱۸
[2]: جواهرالفقه للشيخ محمدشفيع رحمه الله۳/ ۵۱۸

(c) ketabton.com: The Digital Library


پرتــه روژه نــه شــوه نېــولای هغــه دې روژه وخــوري او بیــا دې قضــا را وګرځوي. [1]

## هغه شیان چې روژه پرې نه ماتیږي او نه هم مکروه کیږي

### ۱- غسل کول

د ګرمۍ له امله روژه کې په خوله یا پوزه یخې اوبه ګرځول، لمبېدل او یا پر سر یا بدن لوند ټوکر اچولو سره روژه نه ماتیږي او نه هم مکروه کیږي.[2]

### ۲- مسواک کارول

د مسواک په کارولو روژه نه ماتیږي.

### ۳- سرغوړول

که په روژه کې څوک سر غوړ کړي روژه یې نه ماتیږي. [3]

---

[1]: الدرالمختار ۲/ ۳۹۵ ط: سعید

[2]: الفتاوی العالمکیریة ۱/ ۲۲۰

[3]: الدرالمختار: ۳/ ۴۲۱ کتاب الصوم، مطلب یکره السهر اذا خاف فوت الصبح، ط: دارالمعرفة، بیروت.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ۴- احتلام

که څوک په خوب کې احتلام شي روژه یې نه ماتیږي. [1]

## ۵- خوشبويي کارول

د عطرو په کارولو سره روژه نه ماتیږي. [2]

## ۶- د اړتيا پر وخت د خوړو خوند کتل

ابن عباس رضي الله عنهما وايي: که څوک سرکه یا بل کتنغ وڅکي؛ نو که ستوني ته یې رسېدلی نه وي، پروا نه کوي. [3]

خو دا په هغه صورت کې چې ډېره اړتیا وي، لکه د یوې مېرمنې خاوند په طبعیت کې تریخ دی، هغې ته روا دي چې د کتنغ خوند یوازې په ژبه وګوري. او همدا حکم نانبای (ډوډۍ پخوونکی) ته هم دی.

---

[1]: ایضا.

[2]: الفتاوی القاضیخان ۱/ ۲۰۸

[3]: مصنف ابن أبي شيبة، كتاب الصيام، في الصائم يتطعم بالشيء، حديث رقم (9369).

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغه راز مېرمن کولای شي خپل بچي ته په خپله خوله کې خواړه وژويي داسې چې ستوني ته يې خوند تېر نه شي؛ خو دا په داسې وخت کې چې هلته بل داسې څوک نه وي چې روژه يې نه وي نيولې. ([1])

## ۷- د سترګو درمل کارول

په سترګو کې درمل اچولو سره روژه نه ماتيږي اګر که په حلق کې يې خوند محسوس شي. دغه راز په سترګو تورولو هم روژه نه ماتيږي. ([2])

## ۸- د مار يا لړم چيچل

د مار يا لړم په چيچلو روژه نه ماتيږي. ([3])

## ۹- په هېره سره خوراک يا څښاک کول

حضرت ابوهريره رضي الله عنه د رسول الله صلی الله عليه له مبارکې خولې په يوه وينا کې وايي: که څوک په هېره سره خوراک يا څښاک

---

[1]: البحرالرائق۲/ ۴۸۹، کتاب الصوم، باب ما يفسد و مالا يفسد، ط: رشيديه
[2]: الفتاوی العالمکيريه ۱/ ۲۲۴، کتاب الصوم ، باب ما يفسد و ما الايفسد.
[3]: ردالمحتار علي الدرالمختار ۳/ ۴۲۱،کتاب الصوم، ط: دارالمعرفة، بيروت

(c) ketabton.com: The Digital Library


وکړي؛ نو روژه دې پوره کړي؛ ځکه چې په هېره خوراک یا څښاک د الله پاک له لوري (مېلمستیا) وي" ([1])

دا حکم فرضي او نفلي دواړو روژو ته شامل دی.

دغه راز په څو نورو شیانو هم روژه نه ماتیږي:

۱۰- بې اختیاره ستوني ته دود، ګرد یا چینجی ننوتل.

۱۱- بې اختیاره قی کول.

۱۲- پېچکاري لګول.([2])

۱۳- غاښونه وینې کېدل خو په دې شرط چې وینه ستوني ته ولاړه نه شي.([3])

---

[1]: صحیح البخاري، کتاب الصوم، باب الصائم إذا أکل أو شرب ناسیا، حدیث رقم (1933).

[2]: رد المحتار۲/ ۳۹۵-۳۹۶، باب ما یفسد الصوم و مالایفسد، ط: سعید، وکذافي فتاوی العالمکیریه: ۱/ ۲۰۳، الباب الرابع فیما یفسد و فیما لایفسد، ط: رشیدیه.

[3]: جواهرالفقه ۳/ ۵۱۹

(c) ketabton.com: The Digital Library


## هغه شیان چې روژه پرې مکروه کیږي

۱- په روژه کې له مېرمنې سره لوبې کولو، او مچو کولو سره روژه نه ماتیږي؛ خو په روژه کې داسې کول مکروه دي، او که په دغه وخت کې انزال شي، روژه یې ماتیږي. [1]

۲- له عذر پرته د خوړو خوند څکل.

۳- په خوله کې نارې راټولول او بیا یې تېرول.

۴- له ډېرې اړتیا پرته په غاښ کې دوا کېښودل.

۵- د روژې په شپه تر سهاره په جنابت کې پاتې کېدل خلاف اولی دي، ښه دا ده چې په شپه کې غسل وکړل شي.

۶- رګ وهل (حجامت) په رګ وهلو سره د رګ وهونکي روژه مکروه کیږي.

۷- د غاښونو دوا کارول؛ خو که دوا حلق ته تېره شي بیا روژه فاسدیږي.

۸- په غاښونو کې د خوراک ذرې (میده برخې) پرېښودل. [2]

---

[1]: البحرالرائق۲/ ۴۷۶، کتاب الصوم، باب ما یفسد الصوم و ما لا یفسد، ط: رشیدیه
[2]: مسائل رفعت قاسمي، دوهم ټوک، مسائل روزه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


۹- دغه راز په روژه کې درواغ ويل، په درواغو شاهدي ويل، غيبت کول، چغلخوري، ټګي کول، جګړې کول، په دراغو قسمونه خوړل، فاحش حرکات کول، سپکې خبرې کول، ظلم کول، نامحرمه مېرمنو سره خبرې کول او ورته کتل، سينما ته تلل، دا هغه څه دي چې روژه ورسره مکروه کيږي، ښايي روژه نيونکي په روژه کې په ځانګړي ډول له دې کارونو څخه هم ځانونه وساتي.

## هغه عذرونه چې له امله يې روژه ماتول روا دي

### ١- د ناروغۍ د زياتېدا وېره

که يو څوک له روژې نيولو وروسته د ورځې په لړ کې ناروغ شو؛ نو که د روژې له امله يې ناروغي زياتېده يا اوږدېدله، کولای شي روژه ماته کړي او بيا به يې قضا را ګرځوي کفاره پرې نشته، او که په پېچکاري يې درملنه کېدله، بيا دې روژه نه ماتوي. [1]

[1]: احسن الفتاوی ۴/ ۴۳۲ د فتاوی عالمګيري په حواله.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## ۲- د مور يا ماشوم ژوند ته ګواښ

حاملې مېرمنې ته که داسې څه ورپېښ شول چې د هغې يا يې د ماشوم ژوند ته ګواښ وي، هغې ته روژه ماتول غوره دي. [1]

## ۳- مرګوني تنده رامنځته کېدل

د خوړو پخولو يا بل کوم اړين کار کولو له امله څوک دومره تږی شو چې مرګ ته نږدې شو، هغه دې روژه ماته کړي. [2]

# د رمضان اړوند بېلابېلې مسئلې

## ۱- د روژې کفاره

که څوک په لوی لاس، له کوم عذر، سفر، او يا ناروغۍ پرته روژه ماته کړي هغه به کفاره ورکوي او هم به د همدې ورځې قضايي راګرځوي، کفاره دا ده چې يا به دوه مياشتې پرلپسې روژې نيسي، که د کمزورتيا يا ناروغۍ له امله روژې نشي نيولای بيا دې شپېتو غريبانو ته دوه وخته په مړه خېټه خواړه ورکړي - کولای شي په دوه ورځو کې يې دوه ځله ورکړي او يا يوه غريب ته شپېته ورځې هره ورځ دوه وخته

---

[1]: مسائل رفعت قاسمي، دوهم ټوک، مسائل روزه
[2]: مسائل رفعت قاسمي، دوهم ټوک، مسائل روزه

(c) ketabton.com: The Digital Library


خواړه ورکړي، يا دا چې شپېتو مسکينانو ته يو وخت ډوډۍ او د دوهم وخت په بدل کې هر يوه ته د سرسايې په ارزښت نغدې روپۍ ورکړي- په دې ټولو صورتونو کې کفاره ادا کيږي. [1]

شپېتو مسکينانو ته خواړه ورکول د هغه چا لپاره دي چې دوه مياشتې مسلسل روژې نشي نيولای او که څوک وس لري چې دوه مياشتې پرلپسې روژې ونيسي، هغه ته روا نه دي چې مسکينانو ته خواړه ورکړي.

او که څوک د شپېتو مسکينانو خواړه يا يې (د سرسايې برابر) قيمت په يوځای دوو مسکينانو ته ورکړي، کفاره يې نه سهي کيږي؛ بلکې اته پنځوس نورو ته به يې هم ورکوي؛ البته هر يوه ته د يوې سرسايې برابر. [2]

د کفارې په روژو کې شپېته ورځې پوره کول ضرور نه دي؛ بلکې د سپوږميزو مياشتو دوه مياشتې روژې به نيسي هغه که هره مياشت هر څو ورځې راغله؛ خو دا په هغه صورت کې چې که څوک د سپوږميزې مياشتې له لومړۍ نېټې څخه روژې پيل کړي، او که څوک د سپوږميزو

---

[1]: حديث ابي هريرة في صحيح البخاري ١/ ٢٥٩، ٢٦٠، كتاب الصوم،ط: قديمي. ردالمحتار على الدرالمختار: ٢/ ٤١١، ٤١٢

[2]: الفتاوى العالمكيرية، كتاب الطلاق، الباب العاشرفي الكفارة: ١/ ٥١٣، ط: رشيدية

(c) ketabton.com: The Digital Library


مياشتو له منځ څخه د کفارې روژې پيل کړي هغه به شپېته ورځې پوره کوي. [1]

## ۲- د روژې قضاء

که د يو عذر له امله روژه قضا شي؛ نو د عذر له منځه تللو سمدستي وروسته يې قضا راوړل غوره دي البته له رمضان وروسته، په قضايي روژو کې اختيار دی، که ټولي يو ځای نيسي او که په جلاجلا ورځو کې يې نيسي.

## ۳- پېشمنی

له نيمې شپې وروسته د صبح صادق له را ختلو تر وړاندې پورې د پېشمني وخت دی، په دغه وخت کې څه ناڅه خوراک کول سنت دی او غوره دا ده چې پېشمنی د شپې په ترټولو وروستۍ برخه کې وشي خو دومره ناوخته نه، چې پېشمنی په شک کې شي.

که مؤذن له صبح صادق راختلو وړاندې اذان وکړ، پېشمنی نه بنديږي ترڅو چې صبح صادق نه وي راختلی.

---

[1]: مسائل رفعت قاسمي، دوهم ټوک، مسائل روزه.

(c) ketabton.com: The Digital Library


اذان باید له صبح صادق را ختلو وروسته وشي، او خلک باید په دې پوه شي چې د اذان په وخت کې هم خوراک کول ممنوع دی.

د پېشمني له پای ته رسولو وروسته په زړه کې نیت کول بسنه کوي او که په ژبه دا توري ووايي، غوره ده: بِصَوْمِ غَدٍ نَوَيْتُ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ.

ژباړه: د رمضان سبانۍ ورځې روژې نیت کوم.

## ۴- روژه ماتی

کله چې د لمر په پرېوتو باور راشي، بیا روژه ماتی وروسته کول مکروه دی؛ خو که کله هوا ګردجنه وه او د لمر په پرېوتو کې شک و، بیا روژه ماتی دوه-څلور دقیقې وروسته کول غوره دی، او عموما په روژه ماتي کې درې دقیقې احتیاط غوره دی. [1]

## ۵- تراویح

په رمضان کې د ماخوستن له فرض او سنتو وروسته شل رکعته لمونځ سنت مؤکد دی.

په تراوو کې د ټول قرآنکریم ختم کول سنت دی.

[1]: جواهرالفقه، للشیخ المفتي محمدشفیع رحمه الله۳/۵۲۲

(c) ketabton.com: The Digital Library


# د روژې اړوند بېلابېلې مسئلې

## په هغه سيمو کې د روژې حکم چې شپه يا ورځ يې ډېره اوږده وي

په کومو سيمو کې چې ورځ دومره اوږده وي چې روژه نيول پکې د انسان له وس څخه بهر وي، (لکه په ناروې هېواد کې کله تر دوه وېشت ساعته هم اوږده ورځ وي) د داسې سيمو د روژې حکم دا دی چې ځنګه د لمانځه وختونه له نږدې هغو سيمو سره برابروي چې شپه او ورځ پکې د معمول مطابق وي، همدغه راز دې روژه هم د هغوی له مهالوېش سره سم نيسي او ماتوي دې.[1]

او که ورځ اتلس ساعته وه، بيا دې پوره ورځ روژه نيسي.[2]

## يو ديرشمه روژه

د يو شمېر هېوادونو تر منځ د وختونو او مطالعو توپير وي؛ نو ځينې وخت يو سړی په يوه هېواد کې دېرش روژې پوره کړې وي خو چې بل هېواد ته ورشي هلته هغه ورځ دېرشمه وي؛ نو دا چې رمضان تر دېرشو

---

([1]) فتاوى شامي: ١/ ٣٣ ، كتاب الصلوة مطلب في طلوع الشمس من مغربها، وايضا ١/ ٣٦٥، مطلب في فاقد وقت العشاء كاهل بلغار، كتاب الصلوة.

([2]) مجموعة الفتاوى ١/ ٦٩٦، ط: سعيد

(c) ketabton.com: The Digital Library


ورځو نه زیاتیږي، ښایي دا سړی د نورو خلکو د روژو د احترام له امله په هغه ورځ د روژې عادت وکړي.[1]

## جراحي عملیات

له دماغ یا خیټې پرته د انسان د بدن د نورو غړو په عملیات کولو سره روژه نه ماتیږي. [2]

دغه راز د هغه اندامونو په اپرېشن سره هم روژه نه ماتیږي چې معدې یا دماغ ته قدرتي سوري (منفذونه) ونه لري. [3]

او که د دماغ یا معدې عملیات یې په داسې ډول وکړل چې یواځې څه یې ورخخه ووېستل او څه یې ور داخل نه کړل، بیا هم روژه نه ماتیږي. [4]

او که د عملیات په وخت کې په دماغو یا معده کې دننه درمل وکاروي او یا مصنوعي غړي ولګوي، روژه پرې ماتیږي. [5]

---

(1) جدید فقهي مسائل: ۱۰۰
2: رد المحتار۲/ ۳۹۵، ط: سعید
3: شامي ۲/ ۴۰۲، ط: سعید
4: ردالمحتار ۲/ ۴۱۴، ط: سعید
5: شامي، ۲/ ۴۰۲ ط: سعید

(c) ketabton.com: The Digital Library


دغه راز که د معدې د عملیات پر وخت د معدې کومه برخه بهر را ووېستل شي او بېرته په خپل ځای ولګول شي، روژه پرې فاسدېږي. [1]

که څوک په نس کې په مرمۍ ولګېږي او مرمۍ هلته پاتې شي، روژه یې ماتېږي او یوازې قضا به یې راګرځوي. [2]

## له بدن څخه وینه وېستل

په روژه کې د پېچکارۍ له لارې له بدن نه په وینه وېستلو روژه نه ماتېږي، البته دومره وینه وېستل مکروه دي چې د روژه نیونکي بدن ورسره کمزوری شي چې بیا د روژې پوره کولو وس نه لري. [3]

دغه راز که په روژه کې څوک ناروغ شو او وینې ته یې اړتیا شوه، هغه کولای شي خپل بدن ته د چا وینه تېره کړي، روژه یې نه فاسدېږي. [4]

---

[1]: الفتاوی العالمکیریة ۱/ ۲۰۴، ط: رشیدیة
[2] الدرالمختار ۳/ ۴۲۳ ط: دارالمعرفة
[3]: احسن الفتاوی ۴/ ۴۳۵
[4]: البحرالرائق ۲/ ۴۷۶، ط: سعید

(c) ketabton.com: The Digital Library


## په روژه کې غاښ وېستل

د ډېرې اړتيا له امله په روژه کې غاښ ويستل روا دی او که ډېره اړتيا نه وي بيا مکروه دی، او که د غاښ وېستلو پر وخت دوا يا وينه خيټې ته ولاړه شي؛ نو که وينه تر ناړو زياته يا برابره وه او يا يې خوند څرګند و، روژه ورسره ماتېږي. ([1])

## په پوزه کې دوا کارول

که په پوزه کې دوا کاروي؛ نو که دوا حلق ته ورسيږي روژه پرې ماتيږي او که ونه رسيږي، نه ماتيږي. ([2])

## په روژه کې شونډې سرې کول

مېرمنې کولای شي په روژه کې شونډې سرې کړي او که دا وېره وه چې سرخي به يې خولې ته لاړه شي، بيا مکروه دي.([3])

---

[1]: احسن الفتاوی ۴/ ۴۳۶، د ردالمحتار په حواله.
[2]: الفتاوی الشامي. ماخذه: فتاوی محموديه ۱۰/ ۱۳۸
[3]: احسن الفتاوی ۴/ ۴۳۴

(c) ketabton.com: The Digital Library


## مېرمن د ورځې په منځ کې له حيض څخه پاکېدل

که يوه مېرمن د ورځې په منځ کې له حيض څخه پاکه شي، هغه دې په همدې ورځ د نورو روژه نيونکو په شان خوراک او څښاک نه کوي، او د همدې ورځې قضا به هم را ګرځوي. [1]

## په غوږ کې اوبه يا تېل ننوتل

که په خطاسره په غوږ کې اوبه لاړې شي، روژه نه ماتوي، او که دوا يا تېل په غوږ کې واچوي روژه ماتيږي. [2]

## نابالغ چې روژه ماته کړي قضا پرې نشته

نابالغ هلک يا نجلۍ که پخپله روژه ماته کړي يا يې پلار د رحم له امله پرې ماته کړي، قضا يې نشته. [3]

---

[1]: حاشية الطحطاوي على مراقي الفلاح، ص: ۶۷۸

[2]: احسن الفتاوی،۴/ ۴۳۱ د ردالمحتار په حواله .

[3]: احسن الفتاوی ۴/ ۴۴۰ د ردالمحتار په حواله.

(c) ketabton.com: The Digital Library


## د روژې مستحبات

### ۱ - په روژه ماتي کې تلوار کول

حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه روايت کوي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وويل: "خلک (مسلمانان) به تر هغو په خير کې وي چې په روژه ماتي کې تلوار کوي" ([1])

ابو عطيه رحمه الله وايي: يوه ورځ زه او مسروق رحمه الله حضرت عائشې رضي الله عنها ته ورغلو ورته مو ويل: اې د مسلمانانو مورې! د رسول الله صلى الله عليه وسلم دوه صحابه دي، يو يې په روژه ماتي او لمانځه کې تلوار کوي او بل په روژه ماتي او لمانځه کې وروسته والى کوي؛ نو مور ځنګه وکړو؟ راته يې وويل: هغه کوم يو دى چې په روژه ماتي او لمانځه کې تلوار کوي؟ مور ورته وويل: عبد الله - يعني : ابن مسعود رضي الله عنه- راته يې وويل: رسول الله صلى الله عليه به همداسې کول.([2])

---

[1]: صحيح البخاري، كتاب الصوم، باب تعجيل الإفطار، حديث رقم (1957).

[2]: صحيح مسلم، كتاب الصوم، باب فضل السحور وتأكيد استحبابه..، حديث رقم (2554).

(c) ketabton.com: The Digital Library


خو دا په دې معنا نه چې دومره تلوار وشي چې د لمر په لوېدو کې شک پيدا شي؛ بلکې د لمر په لوېدو کې له يقين وروسته تلوار کول مستحب دي.

## ۲- په تازه کجورو روژه ماتول

حضرت انس رضي الله عنه وايي: رسول الله صلی الله عليه وسلم به په لندو کجورو روژه ماتوله، که به هغه نه وې بيا به يې په وچو کجورو او که به هغه هم نه وې بيا به يې د اوبو څو غړپه وکړل. ([1])

## ۳- د روژه ماتي دعا ويل

د روژه ماتې پر وخت دا دعا ويل مستحب ده: اللهم اني لک صمت، وبک امنت، وعليک توکلت، وعلی رزقک افطرت.

ژباړه: خدايه! تاته مې روژه ونيوله، پر تا مې ايمان راوړی، پرتا مې توکل کړی، او ستا په (راکړي) رزق مې روژه ماته کړه.

---

[1]: سنن أبي داود، كتاب الصوم، باب ما يفطر عليه، حديث رقم (2356).

(c) ketabton.com: The Digital Library


**۴- له روژه ماتي وروسته دعا**

ابن عمر رضي الله عنهما وايي: رسول الله صلى الله عليه وسلم چې به روژه ماته کړه داسې دعا به يې کوله : " تنده ماته شوه، رګونه لانده شول او اجر وټاکل شو انشاءالله" .([1])

**۵**- د پېشمني پر وخت يو څه خوړل، اګر که د اوبو يو غړپ هم وي.

**۶**- پېشمنى دومره نه ناوخته کول چې روژه په شک کې شي.

**۷**- خپلوانو، نېستمنو او اړو خلکو سره مرستې کول، مسلمان بايد تل د نېکيو کارونه وکړي؛ خو په روژه کې ښايي له نورو مياشتو څخه په دې لاره کې ډېر زيار وباسي.

**وروستۍ يادونه**: له تېرو خبرو څخه څرګنده شوه چې روژه يوازې د خوراک او څښاک او جماع نه کولو ته نه وايي؛ بلکې په روژه کې بايد مسلمان له هر ډول ناوړه کارونو څخه روژه ونيسي او وښيي چې روژې څومره اغيز وربانـدې کـړی دی، پـه همـدې ډول هغـه ټـول ثوابونـه او انعامونه ترلاسه کولای شي چې الله يې په بدل کې وعده کړې ده او که نه، يوازې له خوراک او څښاک څخه لاس واخلي؛ خو نورې بد اخلاقۍ کوي بيا له روژې څخه هيڅ ګټه نشي پورته کولای او تش لاس به ورڅخه تيرېږي. رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايي: داسې روژه نيونکي شته چې لوږې او تندې تيري کړي؛ خو هيڅ په لاس ور نشي، او

[1]: سنن أبي داود، كتاب الصوم، باب ما يفطر عليه، حديث رقم (2357).

(c) ketabton.com: The Digital Library


داسې د شپې ولاړېدونکي او عبادت کوونکي هم شته چې له بې خوبۍ پرته نور هيڅ په لاس نه ورځي، څوک چې روژه ونيسي؛ خو ناوړه کارونه پرې نږدي الله جل جلاله د هغوی د خوراک او څښاک د پرېښودلو هيڅ پروا نه لري.([1])

الله دې وکړي چې ټول د روژې له سترو نعمتونو څخه برخمن شو. آمين

[1]: سنن ابن ماجه، كتاب الصيام، باب ما جاء في الغيبة والرفث للصائم، حديث رقم (1690).

(c) ketabton.com: The Digital Library


## اعـتــكاف

د الله د رضا په نيت جومات كې په داسې ډول اوسېدلو ته اعتكاف وايي، چې له هغو اړتياوو پرته چې په جومات كې نه پوره كيږي (لكه اودس ماتى، واجب غسل او اودس) له جومات څخه نه وځي. او اعتكاف (سنت مؤكد على الكفاية دى) معنا دا چې كه له كلي څخه يو تن اعتكاف ته كښيني د نورو غاړه خلاصيږي او كه يو هم كښېنه ني د ټولو غاړه بنده ده او كه چا پر ځان د اعتكاف نذر منلى وي بيا پر هغه واجب دى.

### د اعتكاف فضائل

د روژې له اهمو عبادتونو څخه يو هم اعتكاف دى چې د همدې مياشتې په وروستيو لسو ورځو كې ترسره كيږي او دا چاره رسول الله صلى الله عليه وسلم له هجرت نه وروسته هر كال ترسره كړې ده او د ژوند په وروستي كال يې شل ورځې اعتكاف وكړ.

د اعتكاف معنا د الله په كور كې دېره كېدل او د هغه دربار ته ننواتي ورتلل دي او خپل ټول وخت د هغه عبادت ته ځانګړى كول دي، په دنيا كې چې يو څوک د چا كورته ننواتي ورشي هغه يې هرو مرو غږ اوري؛ نو د ارحم الراحمين جل جلاله شان خو تر دې ډېر لوړ دى چې د هر

(c) ketabton.com: The Digital Library


بنده ږغ واوري او توبه يې قبوله کړي، ژړا يې واوري او د له برکتونو ډکه میاشت کې ځانګړی انعام پرې وکړي، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: د قيامت په ورځ چې هيڅ سيوری نه وي، الله به اوو تنو ته دخپل عرش د سيوري لاندې ځای ورکړي...يو له هغو څخه هغه مسلمان دی چې زړه يې ترجومات پورې تړلی وي او له يوه لمانځه وروسته د بل لمانځه په تمه وي؛[1] نو فکر وکړئ يو چا چې يوازې د پنځو لمونځونو په وخت کې په جومات پورې زړه تړلی وي نو هغه چاته به څومره ثواب ورکوي چې ټول وخت يې جومات ته وقف کړی وي او يوازې د الله تعالی عبادت يې مشغله وي!!

د اعتکاف يوه لويه ګټه دا ده چې انسان په دې څو شپو کې خپل زړه ته متوجه کيږي او د هغه د اصلاح فکر کوي، او زړه د انسان په بدن کې هغه برخه ده چې د ټولو اعضاوو اصلاح ورپورې تړلې ده، رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايي: واورئ! د انسان په بدن کې يوه ټوټه غوښه ده، هغه چې اصلاح شي ټول بدن ورسره اصلاح کيږي او که هغه فاسده شي ټول بدن ورسره فاسديږي، واورئ! هغه ټوټه زړه دی.(2)

---

([1]) صحيح البخاري، كتاب الأذان، باب من جلس في المسجد ينتظر الصلاة..،حديث رقم (660)

[2]: صحيح مسلم، كتاب المساقات، باب أخذ الحلال وترك الشبهات، حديث رقم (4091).

(c) ketabton.com: The Digital Library


او ډېر ځله زړه د ناروا مجلسونو، بې ځایه خبرو، شهواتو، بېځایه خوراکونو، ډېرو خوبونو او یو لړ هغو عواملو له امله فاسدیږي چې انسان په اعتکاف کې ورڅخه لرې او خوندي وي.

## د اعتکاف څو اړوند مسائل

۱- نارینه وو ته له جوماتونو پرته په بل ځای کې اعتکاف روا نه دی، الله جل جلاله فرمایي: وَأَنتُمْ عَٰكِفُونَ فِي ٱلْمَسَٰجِدِ [البقرة: ۱۸۷]

ژباړه: کله چې تاسو جوماتو کې ښېله وئ.

او په مساجدو کې د اعتکاف لپاره لومړنی غوره جومات مسجد حرام دی، دوهم مسجد نبوي او دریم مسجد اقصی دی او له دې پرته نور ټول جوماتونه په ثواب کې یو ډول دي. البته جامع جومات د کلي له جوماتونه ډېر ثواب لري.

۲- په کوم جومات کې چې لمونځ په جمعه کیږي او امام او مؤذن ولري هلته اعتکاف صحیح دی، د اعتکاف لپاره د جُمعې لمونځ شرط نه دی. ([1])

۳- مېرمنې په کور کې اعتکاف کولای شي ([1])

[1]: الدرالمختار: ۳/ ۴۹۳، باب الاعتکاف، کتاب الصوم، ط: دارالمعرفة، بیروت.

(c) ketabton.com: The Digital Library


که له ټول کلي څخه یو تن هم اعتکاف ته کښېنه ناست، نو د سنت د پرېښوولو له امله د ټولو کليوالو غاړه بنده ده.([2])

۴- باید جوماتونه ښه ودان وي ترڅو د اعتکاف په لړ کې معتکف ته کومه ستونزه پېښه نشي او که بیا هم کوم مسجد ونړيږي یا د باران له امله وڅڅېږي او د معتکف د اوسېدو ځای نه وي؛ نو د عذر له امله معتکف بل جومات ته تللای شي. ([3])

۵- معتکف کولای شي د انساني ضرورت له پاره جومات څخه ووځي او پر لاره کولای شي خلکو ته سلام وکړي، له مېلمنو سره ستړي مشي وکړي، د ناروغ پوښتنه وکړي او په جنازه کې ګډون وکړي؛ خو دا ټولې خبرې هغه وخت سهي دي چې له جومات نه په همدې نیت نه وي راوتلی، دا به پر روانه کوي او ورته دريږي دې نه، له دې پرته معتکف باید له هرډول ناوړه خبرو او خندا څخه ځان وساتي. ([4])

۶- که په جومات کې اوبه نه وي او نه هم بل څوک وي چې معتکف ته د اوداسه له پاره اوبه راوړي؛ نو معتکف کولای شي د اوداسه لپاره کورته ولاړ شي او له اودس کولو سمدستي وروسته له کوم ځنډ پرته

---

[1]: الدرالمختار۳/ ۴۹۴ باب الاعتکاف، کتاب الصوم، ط: دارالمعرفة، بیروت.
[2]: جامع الرموز: ۱/ ۳۷۶، فصل في الاعتکاف، ط: کریمیه، ماخذه: فتاوی محمودیه
[3]: الفتاوی العالمکیریة: ۱/ ۲۳۴، کتاب الصوم الباب السابع في الاعتکاف، ط: دارالکتب العلمیة، بیروت.
[4]: البحرالرائق: ۲/ ۵۲۹، کتاب الصوم، باب الاعتکاف، ط: رشیدیة، ماخذه: فتاوی محمودیة

(c) ketabton.com: The Digital Library


بېرته جومات ته راشي؛ خو دا حکم د واجب او داسه لپاره دی، نه د نفلي اودس لپاره. [1]

۷- په اعتکاف کې بېخي چوپ کېدل اړین نه دي؛ بلکې مکروه دي، نېکي خبرې کول غوره دي.

۸- په اعتکاف کې ځانګړې عبادت شرط نه دی، لمونځ، تلاوت، او يا د ديني کتابونو کتنه او يا پې چې هر عبادت زړه وغواړي، کولای شي.

۹- که يو معتکف بې ضرورته د لږ وخت لپاره هم له جوماته ځخه ووت، اعتکاف يې ماتيږي، که قصدا وتلی وي او که په هېره سره، د دې اعتکاف قضا به راوړي.

۱۰- که د رمضان په وروستيو لسو ورځو کې اعتکاف کوي؛ نو بنايي د شلمې ورځې له لمر پرېوتلو وړاندې مسجد ته ولاړ شي. او چې د اختر مياشت وليدل شي، بيا به اعتکاف پای ته رسوي. [2]

**پای**

---

[1]: مجمع الانهر: ۱/ ۲۵۶، کتاب الصوم، باب الاعتکاف، ماخذه: فتاوی محمودية ۱۰/ ۲۳۵

[2]: جواهرالفقه للشيخ المفتي محمدشفيع رحمه الله، ۳/ ۵۲۳

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**